ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ تاريخ ۲۰۰۷/۱۲/۱۹

# افغانستان، ډيورنډ لاين، پښتونستان

سريزه.

**دغه سريزه د سيستانی صيب ليکني اټک که متک ته ليکم**

هيڅ يو ريښتيني افغان نن ورځ په همدي ناوړه شرايطو کی د يوالي اراده ، غوښتنه نه څرګنده کړي او نه يې بايد څرګنده ګړي. داغوښتنه هلته پلي کيږي چې افغانستان په خپلو پښو ولاړ وي. دغي مسلي ته تاسو په څمره اسانه ،ساده او په تشولاسو کتلي دي. دتاسو له ځواب سره زه موافق يم. تر څو چې افغانستان خپل تاريخي کړکيچونه له پاکستان سره نه وي حل کړي ، افغانستان په سوله او ثبات کې ژوند نشي کولي. دغه کړکيچ د پوځي لاري نه حل کيږي بلکې له سياسي ويښتيا له لاري حل کيږي. موږ بايد لږ په ولسواکې او نړيولتوب باندي باور ولرو. که د تاسو په څير ادا ټول افغانان فکر وکړي نو دنړي شپږ ميلياردە وګړي به هم دا کرښه په رسميت وپيژني .
د لوی خدای په فضل حقيقت داسي نه دي .د افغان ولس تاريخ پاڼي شاهدي دي چې هېڅکله يو ملي افغان شخصيت دغه توره کرښه نه منلي او نه يې مني او تر پوښتني لاندي هم نه راولي.. که هر افغان د تاسو په څير ودارشی نو موږ به له انګريزانو او رسانو څخه د خپلواکې جګړه نه وی ګټلي.. نور ځواب د ښاغلي ډيپلوم انجينر خلليل اله معروفي صيب او د دوکتو ر روستا ترکې د اټک متک چتک ، ديورند د موافقه ليک حقوقي ارزونه په ليکنو کی ولولي. د اټک خبره خو نن د هر پښتون په زړه کې ده. مګر د متک خبره د يو څو پنجابی جنرالانو په سر کې شايد وي. زه فکر کوم چې تاسو لکه د يو پردي سړي په څير د افغان له تاريخه لږ خبر ياست . پښتونواله د قبايلي ايدیالوژی بنسټ دی چې د قبايلي عنعنې او تشريعي اصولو ، حقوقو او اخلاقي اصول لري . چې په جرګو او مرکو ولاړ دي . قبايل د افغانستان په ژوند کې يو سياسي بيړني د غبرګون ځواک دي چې هېڅکله بيده شوی نه دی او د افغان ولس شمله دوي جګه ساتلې ده.
هو په جګړه کې کله سړي ګټي او کله يې بايلي. اوس بدلون راروان دي. پاکستان پوځي پوستي اوس نه بلکې لومړي يې د مجاهدينو په وخت کې جوړي کړي دي. سيستاني صيبه هو زما او ستا هويت افغان دې مګر د هيواد يو برخه مو د غليم ترولکي لاندې ده. د بيا ملي وحدت او يوالي مبارزي بايد دواړه خواوي لخوا بايد په رښتيني تفاهم پرمخ ولاړه شي، دواړه غاړي هم پلارني هيواد او هم بيل شوي ورور په خپله خوښه د خپل راتلوکې نسلونو لپاره سره جرګه شي.. نه داسې لکه چې تراوسه د افغان حکومتونو لخواه دغه کړکيچ ته شا اړه ول شوي ده.

لوی افغان پوه ښاغلي معروفي صيب سره زه هم د خپل ولس او هيواد د سبا ځواک باندي ټينګ ايمان لرم . هغې ځوان چې له تاشو پوښتنه کړي هغه زه نه يم . دومره وايم چې نن په سلګونو زره روند اندي افغان ځوانان په خپل کور او چاپريال کې په دغه مفکره باندي سمبال شوي دي. زه فکر کوم چې تاسو په دي ورستيو شلو کالونو کې يوه شپه هم په قبايلو کې نه ده سباکړي. که تاسو له نږدي پر هغوي باندي ظلمونه ، ناوړه حالات او د دوی ماغزه څنګه نن داسې مينځل شوي وپلټي. د دوي دغه له اصراره ډکه جګړه چې ما او تا ته د منلو وړ نه ده پری وپوهيږي. چې ولي؟

نن مولانا فضل الرحمن خپله طلايې نسخه د ډيورنډ کرښي په اړه وړاندي کوي.. وايې که افغانستان د ډيورنډ کرښه په رسميت وپيژني سوله به ټينګه شي. چې د تاسو وړانديز هم داسي دې.
ښاغلي فراهي صيب ملي ضد خبرې د پښتنو مېړنيو قبايلو په هکله کړې دي . وايې د افغان ولس ټولي بد مرغي د پښتنو قبايلو لاسه دي ، هغوي ټول د القاعده غړي دي. ښاغلي حشمت احمد زي د افغانستان په پلازمينه کی د پښتنو کوچينيانو لپاره په پښتو ژبه د ښونځيو مخالف ناري وهي .
زه په دی هم نه پوهيږم چې ښاغلي هر يو حکمتيار ، ملا عمر، مولانا جلالدين حقاني ،قاضي حسين احمد، مولانافضل الرحمن ، سمع الحق او داسی نور ولي تل د انګريز او لوديځ پر وړاندي جهاد او مبارزه کوي دوي خو د انګريز ناروا پريکړه پرخپله خاوره او وجود له پخوا منلي ده ، دوي. يوه ورځ يو کلمه يې د دغي ظلم پر وړاندي نه ده ويلي
.


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفأ به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

موږ افغانان د ډیورنډ کرښې په اړه د مزار له ملا عطا محمد خان ، اوغانستانیانو او خراسانیانو څخه باید ګیله ونکړو. ؟په دې نسل کې د ملي یوالي افغانیت، انسانیت ، اخلاقي نورمونو ارزښت نشته دا به هم تیر شي.

الف ـ افغان پښتون

لوی خدای موږ پښتانه له پېنځه زرو کلونو راهیسې د نړۍ په یو برخه کې استوګن کړي یو . یو مو ملي تاریخ ، یوه مو ګډه خاوره ، یو مو دین ، یوه مو ژبه ، یوه مو پښتونولي ، افغانیت ، یو مو دود دستور او کلتور ، یوه مو لاره ، یوه مو ملي هیله ، د یوه نیکه او ټبر ، یوه مو ورورولي ، یو مو ملي بیرغ او په سیمه کې تر ټولو ننګیالی ، توریالی او په خپلواکی ، سوله مېین لوی قام دی ، ښه او بد مو په ګډه دي ، ځکه نوم او تاریخ مو د یو افغان پښتون په نوم په نړۍ کې ژوندی دی .
څنګه به انګریزي نړیوال تور استعمار له هند څخه د خپلو سیاسي او اقتصادي ګټو خوندي کولو لپاره یو واحد افغان ملت د یوې کورنی غړي په یوه هیوایي مکاره ، کبرجنه خبره په ډېر سپین سترګتوب سره پیل کړي ؟

ب ـ د ډیورنډ لاین تاریخ

پښتونستان ، پښتونخوا، افغانیه د افغانستان نه بېلیدونکي ، نه وریریدونکي ،نه ورپرېښودونکي خاوره ده . په ۱۸۹۳ م کال کې انګریزي استعمار په افغانستان باندې د ډیورنډ توره هوایي غیر فطري کرښه د برطانوي هند او افغانستان تره مېنځه د افغانستان په زړه کې تحمیل کړه ، چې په میلیونونو پښتانه د افغانستان له سیاسي ، مدني ، بشري قوانینو څخه او له خپل پلارني هیواد څخه په پښتونخوا کې محرومه ، بې حقوقه پاتې کړای شول او پښتانه ورونه سره بېل کړای شول .
د دغې کرښې په ایستلو کې دغه سیمې لکه د ازادو قبایلو پټاره ، وزیرستان ، خیبر ، پېښور ، کوټه ، سمندري لار ، بنو ، سوات ، چترال او داسي نور ښارګوټي له افغانستان څخه د یوې مودې لپاره بېل کړل شول . دغه سیمې له اوسني افغانستان د دریوو نه یوه برخه جوړوي .
Administered Tribal Areas Federally — (NWFP ( North West Frontier Province
ډیورنډ کرښه یا Demarcation line ۲۶۳۰ کیلومتره اوږده ده . انګریزانو دغه کرښه له پیل څخه په دقیقه توګه نده ویستلې . دا کرښه د انګریز کلونیل سستم د ساتلو لپاره په موقته توګه ویستل شوې وه. دغه کرښه د برلن دیوال ، د سویلي شمالي کوریا ، د کشمیر بیلونکي کرښې سره هیڅ نه پرتله کیږي . افغانانو هم له لومړي پیل څخه تر ننه د دغې کرښې قانوني خیال ندی ساتلی . د بېلګې په توګه کرښې ته نږدې د پرتو پښتنو او په میلیونو افغان کوچیانو په کرښه د تګ راتګ لړۍ دوام لري . د انګریزانو هغه موخې د هند نه د وتلو سره یو ځای له مېنځه تللي دي .
دا سیمې هیڅکله له برطانوي هند امپراتورۍ سره تړلې سیمې نه وې. د دغې سیمې ټول عواید او مالیات به تر ډیرې مودې پورې د انګریزانو له خوا د افغانستان شاهي دولت ته ورکول کېدل . همدا وجه ده چې د ډیورنډ کرښه افغانستان ته ، ټولو پښتنو ته په هماغه لومړۍ ورځ Irredentismus ( چې یو ملي لږکې یا اقلیت خپل پلارني هیواد ته او مورنی خاورې ته یو ځای کیدل غواړي ) جوړ کړی دی . ځکه پښتانه په اوسني پاکستان کې په سلو کې ۱۳ برخې دي .
د دغې کرښې تړون د افغانستان امیر عبدالرحمن خان او برطانوي هند د باندنیو چارو وزیر سر مارټیم ډیورنډ Sir Montimer Durand له خوا په ۱۲ نوامبر ۱۸۹۳ کال پس له دوو ناکامو افغان او انګلیس جګړو څخه له انګریزي چل او فشار لاندې د لوی لوبې په ترڅ کې په امیر عبدالرحمن خان باندې وروتپل شو . افغانستان مجبور کړی شو چې یواځې د نړۍ په نقشه کې دغه کرښه په موقتي ډول و مني .
دغې کرښې ته له هماغې ورځې نه راپدیخوا تر اوسه پورې یو ریښتیني افغان پښتون هم د یوې قانوني پولې په څیر ندي کتلي . موږ پښتنو ته په تاریخ کې او په سیمه کې لوی ملي سیاسي پیغور جوړ شوی دی. له هغه وخته چې د روسانو او انګریزانو ښکیلاکګرو ځواکونو لویه لوبه The Great Game پیل کړې ، انګریزانو له پخوا څخه د هند په شمال ختیځ کې د خپل کولونیال سیستم امنیت ته یو سوری یا ګواښ احساسو ، هغه د ورېښمنو لارې دې چې افغان لښکرې له لسو څلو ډېر پرې تللي وو او له دوی نه مخکې هم افغانانو په هند کې حکومت کاوه.
د افغانستان په شمال کې روسیې ځواکونو د یرغل په حالت کې ولاړ وو. چې پرختیا وړې او شتمنیو پسې لیوني ګرځیده. روسان او انګریزان د نړۍ نیولو او ویشلو تجربو سره په افغان پولو تیارسی ولاړ وو. روسان او انګریزان د افغانستان له استراتیژیکي موقعیت پوره خبر وو. د لویې لوبې دواړه خواوې په دې پوهیدې چې په یوازې ټول افغان ولس نشي کنترولولی .
په ۱۸٦۹ کال د برلن په کنګره کې د بسمارک په مشرۍ روسانو ، انګریزانو خپلو ټولو خپل منځي اختلافاتو ،


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

زبرځواکي ، سيالی او ټکر ته د پاې ټکی کیښود . د انګریزانو په پریکړه د افغانستان نیمايي په انګریز او نیمايي برخه به یې روسان کنترول کړي . دا به د دواړو سیالو امپراياليستي ځواکونو په ګټه وي او هم به د افغانانو خاوره د دوی تر منځ یوه بیلونکې سیمه اعلان شي. د پښتون ولس ویش ځواک او ګواښ به د دوی په اند لنډ او پخ کړل شي .
دغه سیمه یا ختیځ افغانستان ته له ستر افغان د پښتنو د خپلواکی او میراني د فکرونو مخکښ لوی احمد شاه بابا څخه نیولې بیا تر ستر هیواد پال شهید سردار محمد داود خان پوري خاص پام شوی. دور د دورانو د ښکلي پښتونخوا د غرونو سرونه څکه هیر نه کړل چې په عشق کې یې ښکلي ځلمیانو د وینو ډک ځیګرونه بايللي وو .
کومي سیمي چې د ډیورنډ کرښي د افغاستان نه جلا کړي ، هغه د ګران افغانستان د تن یوه برخه ده او دغه سیمو بیرته افغانستان سره یو ځای کیدل د افغان ملت ملي غوښتنه ده .

## ج . د ډیورنډ کرښي په یوې خوا کي

١ . په ١٨٣٦ کال کي امیر دوست محمد خان د افغانستان ښار پیښور د نیولو لپاره د امیر المومنین لقب وګټلو . د پنجاب سکانو په ضد یې د جهاد اعلان وکړ ، د خیبر په دره کي د افغان غازیانو او سکانو په منځ کي جګړه وشوه .
٢ . په همدي کال کي د امیر سولیز وړاندیز برتانوي هند ته او له روسانو څخه مرسته چي په سکانو فشار راولي ، پیښور افغانستان ته بیرته ورکړي . په لومړي سره کي انګریزانو دغه خبره منلي وه .
٣ . په ١٨٣٥ کي وزیر اکبر خان د پیښور بیا نیولو لپاره د پلار اجازت څخه پرته لښکرې پنجاب ته واستولي خو بری یې ونه موند .
٤ . په ١٩١٩ کال کي د افغان خپلواکی ستوري شاه امان الله او د هغه د باندنیو چارو وزیر محمود طرزی مجبور شول چي د افغانستان د لویې برخي د خپلواکی علان وکړي . دا محال په سیمه کي تول هیوادونه د روس او یا د انګریزانو د استعمار او ولکي لاندي وو . غازي امان الله خان چي انګریزی کافر یوځ یي له افغان اسلامي خاوري ویستلو او دی بیا د کفر په نوم له خیل پلارني هیواد څخه د انګریزانو په لمسون ویستلو ته مجبور کړی شو .
٥ . په ١٩٤٧ کال صدراعظم شاه محمو خان د پښتنو او قبایلو د برخلیک په اړه په کابل کي د سفارت له لاري د برتانيي حکومت سره د پښتونستان مسله په رسمي ډول مطرح کړه .
٦ . د ١٩٤٧ کال د سپتمبر په میاشت کي افغانستان په ملګرو ملتونو کي د نړۍ یوازینی هیواد و چي د پاکستان له شمولیت یا ورګډولو په ضد یې اعلان وکړ او مخالفه رایه یې ورکړه .
٧ . د افغانستان په رسمي نقشو کي له پاکستان سره دولتي پوله نه په نښه کیدله ، پښتونستان به د نیول شوي خاوري په توګه په خاص رنګ ښودل کیده .
٨ . په ١٩٤٨ کال کښ افغانستان خبري رسنیو سرلیکونه او په دولتي کچه عالي غونډي جوړې ، په کندهار ، کابل ، ننګرهار او پکتیا کي مظاهرې او لاریونونه کیدل .
٨ . د هند او پاکستان په دوو جګړو کي افغانستان سره د ډیورنډ کرښي له کړکیچ په جګړه کي پاکستان ولس په ضد کوم ګام اوچت نه کړو . بلکي د دواړو هیوادونو تر منځ یې د سوله بیزو هڅو ملاتړ وکړو .
٩ . په ١٣٤١ کال کي شهید محمد داود خان د ماسکو او لندن د راستنیدو په وخت وویل ... د پښتون ولس د یووالي مبارزه د نړیوالو قوانینو په رڼا کي د دوی منلی مشروع حق دی او په لندن کي د پښتونخوا د خلکو لپاره د عمومي ازادو ټاکنو د حق غوښتنه وکړه . ورسره په راډیويي وینا کي یې زیاته کړه : د افغانستان او پښتون ولس د ملي یووالي ژورې اړیکي او د خواخوږۍ احساس به نه نني ځواک او نه به د سبا کوم بل ځواک سره پیل کړل شي .
دا کرښه له پیله د نړۍ په تاریخ کي له سترو پیښو څخه یوه پیښه ګڼل شوی ده . د نړۍ خبري رسنیو غټ ټکي لکه د لندن ، فرانسي ، روسیي ، هند ، ایران ، چکوسواکیه او داسي نورو هیوادونو له دغي کشالي او مسئلي څخه ډک وو .
١٠ . په ١٩٥٠ کال کي افغانستان بیا د پښتونستان (( مسئلي )) حل غوښتنه وکړه ، افغان وسله وال یوځ قبايلي سیمي ته سفر بري پیل کړه .
١١ . پخواني شوروي اتحاد ، بلغاریه په نړیواله ټولنه کي د اپښتونستان په برخه کي د افغانستان سیاسي ملاتړ اعلان وکړو .
١٢ . په ١٣٣١ کال کي امریکي متحده ایالاتو د افغانستان او پاکستان حکومتونو تر منځه د ډیورنډ کرښي شخړې په اړه خپل منځګړیتوب او دیپلوماتیکي هڅي په کابل کي له خپل سفارت له لاري د افغانستان شاهي دولت سره پیل کړي . د همدي کال د لړم په میاشت کي سپیني مانی د جمهور ریئس خاص استازي له افغان دولت سره د خبرو لپاره کابل ته ورسید .
١٣ . په ١٩٧٦ کال کي شهید محمد داود خان د زولفقار بوتو په بلنه پاکستان ته سفر وکړو . دواړو مشرانو د ډیورنډ

کرښې شخړې له خبرو اتر او سولییز حل لاره وړاندې کړه . شهید محمد داود خان په سیمه کې یو عملي افغان سیاستپوه سړی وو . دهٔ ته جوته شوه چې اوسمهال د نړۍ سیاست دغې مسئلې حل په اړه نه راڅرخي او نړیوال ملاتړ یې ډېر کمزوری دی .
دغه هیواد پال مشر په همدې سفر کې په اسلام اباد کې له شاهي دولت څخه مرور مشر زمرک خان د ملي خپلواکۍ اتل غازي ببرک خان ځدراڼ له زوی سره ولیدل . غازي ببرک په سویلي محازونو کې له انګریزانو سره جنګیدلی ، او د ډیورنډ کرښې په ضد یې تل ، میرانشاه ، سپین وام او هنګو کې د پرنګي ټولي پوځي چونۍ چې اغزن سیمونه هم ورنه تاو شوي وو ، د ځایي غازي قامونو په ملاتړ له منځه وړي وو . غازي ببرک خان د پیښور په لور د تیارۍ په حال کې وو چې په سیمه کې د انګریز په خلاف خوځښتونه پیل شول . د انګریزانو په لښکر کې له ماتې ګډ ېدو سره جوخت په پیښور کې د افغان غازیانو په پلوۍ پاڅون پیل شو . انګریزانو امان الله خان ته د اوربند او د افغانستان خپلواکۍ په رسمیت پیژندنې وړاندیز وکړو . امان الله خان د اوربند عملي کولو فرمان صادر کړو او لومړي خو ټولو غازیانو له دغه فرمان څخه د سرغړونې فیصله وکړه . امان الله خان له هغوی څخه وغوښتل چې د مرکزي دولت د اوامرو اطاعت وکړي . محمد داود خان د نایب سالار زمرک خان لپاره کابل ته د هغه د راتګ لاره هواره کړې وه . زمرک خان ځدراڼ ددروند مشر له لیدنې کتنې سره سم د تیارۍ په حال کې و چې د غوبي کودتاه وشوله .
د زمرک خان ځدراڼ بل ورور سید اکبر خان ځدراڼ هم له شاني کورنۍ نه مرور په پاکستان کې له خپل اورو سره ژوند کاوه ، هغه د افغان په ننګ د پاکستان صدراعظم لیاقت علي په قتل ورساوو . سید اکبر خان ځدراڼ همل‌ته د پیښې په مهال په ډیر ناوړه توګه ووژلی شو . په پاکستان کې له نایب سالار زمرک خان سره د شهید داود خان لیدل څه عادي خبره نه وه . په سمبولیک ډول پاکستان ته د خپل بیل شوي مرور ورور یو ځای کیدلو ته اشاره وه .
۱۳ . په ۱۹٤۹ کال کې د افغانستان پارلمان (( ولسي جرګې )) په غوڅ اکثریت پریکړه وکړه چې د ډیورنډ کرښه نوره توله شوې ، نشته او مړه ده ، انګریزان هم په سیمه کې ورک شوي ، د تړون یو خوا هیڅ وجود نه لري د تړون له منځه تلل یې هم اعلان کړل . د وړې یا سنبلې نهمه د پښتونستان ملي ورځ اعلان شوه چې تر اوسه په هیواد کې لمانځل کیږي .
۱۵ . په ۱۹٤۹ کال کې د جلال اباد جرګې د ولسي جرګې پریکړې تایید کړې او د ډیورنډ کرښې د پای اعلان وشو.
۱٦ . په کابل کې د پښتونستان لپاره د اعاني دفترونه خلاص شول . د کرښې په دواړو غاړو کې د لر او بر یو افغان لاریونونه پیل شول .
۱۷ . پښتونستان مسئله د داود خان حکومت د اجندا په سر کې وه . په همدې وجه یې خپل ورور نعیم خان امریکې ته د پوځي مرستې راوړلو لپاره ولیږه .
۱۸ . په ۱۹۵۳ کال کې امریکایانو د کمونستي روسیې په وجه پاکستان ته د پوځي مرستو اعلان وکړو .
۱۹ . په ۱۹۵۳ کال کې د امریکې جمهور رئیس کابل ته راغی خو په افغانستان کې یې کومه ګټه ونه لیدله چې د پښتونستان د مسئلې په اړه یې خپل دریځ څرګند کړی وی .
۲۰ . شهید محمد داود خان که څه هم کمونستي ضد احساسات لرل خو مجبور شو چې د دغې مسئلې په اړه له روسانو څخه پوځي مرسته د لویې جرګې په تصویب تر لاسه کړي .
۲۱ . په ۱۹۵۵ کال کې پاکستان د پښتونخوا نوم په صوبه سرحد واړولو او د خپل اداري سیستم په تشکیلاتو کې یې اعلان کړو . د پښتنو د یووالي ارادې ته ، د دوی خپلواکي ته پام نه کولو او د دی بشري حقه حقوق تر پښو لاندې کولو په اړه د افغانانو غبرګون پاکستان ته ډیر شدید و .
۲۲ . شهید داود خان د سفر برۍ اعلان او د پوځي احضار اتو امر وکړ . په څلورویشتو ساعتونو کې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه افغانانو په حیرانونکي ډول په خپل شخصي لګښتونو په خپله خوښه ځانونه د ولایاتو مرکزونو او پلازمینې ته ورسول .
۲۳ . افغان ولس مشر د ډیورنډ کرښې د سیاسي کرنلارې په اړه د افغان ولس پاڅو او د دغه ولسي یووالي احساس په ښودلو کې یو ځل بیا حکومت د خپل سیاست تایید ولید . نړیوال سیمیز سیاسي څارونکي او کتونکي د افغانانو دغه احساس ته ګوته په غاښ پاتې شول . د افغانستان ټولو حکومتونو او په پښتنو کې دغه کرښه تر ننه چا نه ده منلې او په راتلونکي کې به یې هم ونه مني . هر افغان قانوني منتخب ، مضبوط حکومت چې د کرښې منلو پریکړه وکړي . دخپل حکومت د له منځه وړلو پره کړې او اعلان کړې دي .
۳٤ . افغان حکومت په نړیوالو ټولو غونډو او ملګرو ملتونو په ټولو غونډو او جرګو کې د پښتنو او بلوڅو ورونو د حقه حقوقو د تر لاسه کولو لپاره پرله پسې دیپلوماتیکي هلې ځلې کړې دي . په دې برخه کې په تیره بیا د ارواښاد عبدالرحمن پژواک هڅې د هیرولو نه دي .


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

د . د ډیورنډ کرښې په بلې خوا کې

۱ . په ۱۹۲۹ کال په پیښور کې د فخر افغان عبدالغفار خان د عدم تشدد غورځنګ (( خدایي خدمتګارو غورځنګ ))
بنسټ کیښودل شو او ورسره د پښتون کنفرانس ګوند جوړ شو. دوی خپله لویه موخه د خپلواکۍ ګټل اعلان کړه .
۲ . د باچا خان اسلامي عدم تشدد غورځنګ او بې وسلې جهاد پیل شو چې په اسلامي نړۍ کې یې سارى نه لرلو .
۳ . پښتنو مشرانو خپلواک پښتونستان اعلان کړو ، د نړیوالي ټولنې لخوا په رسمیت ونه پیژندل شو .
٤ . په ۱۹۳۰ کال کې پیښور د یوه لنډې مودې لپاره د انګریزانو د کولونیال ځواک له لاسه ووت ، تر څو چې پرنګې
نوې لښکرې وروړسیدلې.
٥ . په ۱۹۳٦ او ۱۹۳۷ کال کې په وزیرستان کې وزیرو ، مسیدو ، اپریدیو ، شینوارو او د نورو پښتنې ننګیالو او
توریالو قومونو او قبایلو پرله پسې پاڅونونه پیل او په ترڅ کې یې خپل کلي ، کورونه د پرنګي له سختي ظالمي بې
رحمه بمباریو او هوایي ځواک تر بریدونو لاندې ونیول شول .
انګلستان په لومړۍ نړیوالې جګړې کې د وسلو په تصلیحاتي کنفرانس کې د ګواښمنو وسلو او هوایي بمباریو منع ترون
له لاسلیک کولو څخه ډډه وکړه .انګریزانو دلایل دا وو چې افغان قبایل مونږ یوازې او یوازې د هوایي بمبارى له لارې
تر کنټرول لاندې راوستی شو .
٦ . د خپلواکۍ بل ځلاندی ستورى میر زا علي خان ــ اپیي فقیر ــ د انګریز ښکلیاک کرو په ضد مبارزه کې زمونږ د
تاریخ ځلانده کرښې جوړوي . د انګریزانو په وړاندې پښتنې قبیلو د مبارزو تاریخ ډیر اوږود دی . دا مبارزه او بهیر تر
ننه پورې په پښتونخوا ، د خپلواکو قبایلو په پټاره کې د ملي ولسواکو ځواکونو او د ملتپالو ګوندونو لخوا په مخ درومي .
هیواد پال پښتون قام تل په خپل ملي ، تاریخي ټاټوبي کې هر ډول بلهارى ورکړې دي .
۷ . خان عبدالغفار خان د خپل وصعت له مخې د پښتون په غیرتي خاوره جلال اباد کې خاورو ته وسپارل شو . دا د
ډیورنډ کرښې په ضد د هغه د اوږدې مبارزې یوه برخه ګڼلی شو .
۸ . په ۱۹٤۷ کال د جون په میاشت کې د بنو لویه جرګه جوړه شوه ، د ټولې پښتونخوا او بلوچستان ملي مشرانو په
ګډون فیصله وشوه چې پښتانه نه هند غواړي نه پاکستان ، یو واحد افغان ملي دولت جوړول غواړي .
۹ . کله چې د پیښور په چوک یادګار کې ، خیبر او توخم کې پښتنو ننګیالو ځلمیانو د لر او بر یو افغان شعارونه ورکول
، اسلام اباد د ساړۀ جنګ په مهال دوی لویدیځ او امریکې ته د روسانو مخته رالیږل شوي استازي او ګوډاګي ورپیژندل
.
۱۰ . قاضي عطاالله خان ، ظفر کاکاخیل په افغانیت هغومره ویاړي لکه د کابل ، کندز ، کندهار پښتون . د ډیورنډ کرښې
په دواړو خواو کې پښتانه تاریخي سیاسي ، مذهبي ، ژبني ، ګډ کلتور او فرهنګ لري او هیڅ څوک نه شي کولی چې
دوی د کرښې دیخوا او هاخوا پښتانه په نوم سره بیل کړي . پښتانه یوهیږي یا به یو کیږیو ، که نه ورکیږو ، که د زماني
ټوپانونو مخې ته سره یو نشو نو بربادیږو .

ه . د افغانستان د خپلواکۍ جهاد

زمونږ د دیرش کلنې غمیزې ، ناورین او اړو دوړ په بهیر کې د دغې مسئلې په اړه په حکومتي کچه او د مجاهدینو
مشرانو له خوا هیڅ یوه ریښتینې هڅه ، اراده او انترس د یووالي په برخه کې په څرګنده توګه ونه ښودلی شو . دا عمل
د دغو ډلو له ویشل شوي افغان ولس سره د نه خواخوږۍ څرګنده بیلګه وه ، دا لنډ منجمد ، ناقصه په وړو دایرو کې
فکرونه ، لنډ بې معنا احساساتي حرکتونه او بې ګنا وژنې ، لنډې موخې او پریکړې ، بې معنا شعارونه ، کوچنې بې
نظمه ګروپونه ، د پردیو په قوماندو ولاړ بې واکه بې احساسه خلک ، د خپلو شخصي ګټو ، واک لپاره د هر څه نه تیر
او د افغان ملي تاریخ یې هیر کړى وو .په دغه دیرشو کلونو کې د پام وړ ټکي د افغان کډوالو دي . اټکل اته میلیونه
افغانان چې په نړۍ کې په دغه شمیر سارى نشته پښتونخوا ته راتګ او میشته کیدل . زه په خپله د لسوو وار نه ډیر پرې
تللی یم . د افغان کډوالو ازاد تګ او راتګ په کرښه چې په عملي توګه یې دغه کرښه له منځه وړې ده او په پښتونخوا
کې له خپل ورور سره یو ځاى پرته له کوم توکمي ، مذهبي ، کلتوري ، ژبني توپیره اوسیدلي دي . د پښتونخوا ورور له
خپل پښتون ورور سره خپل کور ، خپله ډوډۍ ، خپل جومات ، خپل ښوونځی ، خپله هدیره ، خپله وینه ویشلې ده او د
افغانستان د خپلواکۍ په جهاد کې یې سره له دغه دروند باره له خپل ورور سره برخه اخستې ده .

د پښتونخوا پښتون د افغانستان سره د مذهبي ، کلتوري پیوستون او د یو ملت نړدیوالي په بنسټ یو ځاى یو وخت
اخترونه ، روژې او خپل دیني مراسم لمانځي .ډیورنډ کرښې په دوی کې په هیڅ ډول توپیر نه و راوستلی بلکې په دغه


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

دیرشو کلونو کې د دوی تاریخي کلتوري اړیکې او خپلوي دود دستور ، راکړې ورکړې نورې هم سره نږدې او ژورې شوې چې د پښتنو په تاریخ کې یې ساری نشته .

### و . په یووالي کې زمونږ ګټې او تاوان

١ ، د افغان ولس ملي خپلواکي به مکمله شي ، افغان به په افغان حکومت کوي ، یو ولس مشر ، یو هیواد ، یو ولسواکه قانون ، زمونږ په سیمه کې امن او نظم، د یو ځواکمن ملي دولت څښتنان به شو .
٢ ، زمونږ ګاونډیان ټول په اتومي نویو پرمخ تللیو وسلو سمبال دي . افغان ولس د نړیوالو په مرسته په سیمه کې د اتومي وسلو بې وسلې کولو غوښتنه پیل کړېده . له د ې سره به په سیمه کې د پوځي ، اقتصادي قواو توازن برابر شي ، د ګاونډیانو له لاس وهنې نه به د تل لپاره په امن کې اوسو . زمونږ د هیواد پولې به په نړیواله کچه او معیاري نورمونو وپیژندل شي .
٣ ، له ټول افغانستان څخه به یوه سوداګریزه او د سولې سیمه جوړه شي . په افغانستان کې به د اسیا پانګه اچونې سوداګري ازاد لوی مرکز جوړ شي . د ترانزیت مالونو د وریښمنو لارې امنیت او ساتنه به د افغان حکومت په غاړه وي او دمرکزي اسیا دوبۍ ګرځیدل به شونې شي .
٣، افغانستان سمندري لارو ته اړتیا لري او په نړیواله سوداګرۍ کې به د چا له ګواښنه ، بیځایه غندنو ، بندیزنو، رقابتونو ، مالیو او د مالونو له غلاوو څخه وژغورل شو .
٤ ، خپل ګډ هیواد ، ملي عزت او غیرت ، ملي تاریخ ، ادبي کلتور او افغانیت به د غلیم له ویشلې ګواښ څخه وساتو ، د افغان خپلواکه خاوره به په نړۍ کې د مدنیتونو او کلتورنو څلور لارې په څیر وپیژندل شي .
٥، خپل راتلونکي نسلونه به د یو میراسي کړکیچ ورسپارلو څخه وژغورو او دوی ته به په خپل پلارني هیواد کې هوسا سولییز ژوند وروسپارو .
٦ ، په پښتونخوا کې په ملیونو ازاد قبایل له دوسوو کالونو راپدیخوا په انزوا کې ژوند کوي ، دوی پرته له مدني او بشري قوانینو او دولتي امن څخه په ډیر ناوړه ټولنیزه حالت کې له افغانستان سره د یووالي شپې ورځې تیروي . دوی به په یوویشتمه پیړۍ کې د انګریزانو له تور FCR قانون څخه راخلاص کړو . دوی په پاکستان کې بې نامه ، بې نشانه ، بې تاریخ ، بې کلتوره ، بې ژبې په انزوا کې په ناوړه اقتصادي شرایطو کې ساتل کیږي .
٧ ، په وحدت ، اتحاد ، اتفاق ، یووالي کې هیڅ تاوان نشته ، په اتحاد او یووالي کې برکت او لوی خدای زمونږ په لوري او مرستندوی دی .
٨ ، د یوې لنډې مودې لپاره د انارشیزم اړو دوړو ګواښ شته او د پردیو لخوا لاسوهنې شونې دي . باید ملګرو ملتونو او د نړۍ له تجربو او مرستو څخه د یووالي په اړه کار واخستل شي .
٩ ، په اقتصادي ټولنیزه کچه مونږ په یو لیمټ کې یو . دولتي واک او عایداتو ویش زمونږ ولسواکه او ټولنیز عدالت قانون به یې سره تنظیموي .
١٠ ، افغانستان باید دغې یووالي ته ستر قرباني او تیاري ونیسي ، ملي ویښه پخلاینه ، د یوالي لپاره ولسي پوهونه،پلانونه ، پروګرامونه، د کرښي دواړوغاړو ولسونو ترمنځه اړیکې ټیګول، دیوالي لپاره ملي جرګو رابلل ، تلویزیوني خپروني د ډلیزو رسنیو پام دغي ملی غوښتني ته رابلل ،ملي امنیت ، تل پاتې سوله، اقتصادي ثبات او په نړیوالو معیارونو ګرنټي برابره کړي .
١١ ، زمونږ په پښتني ټولنه کې د جومات ، حجرې او پوهنتون تر منځه باید دیوال مات شي ، افغان روڼ اند ، پوهان ، د اغیزې خاوندان ، سیاسي ګوندونه او ایدیالوژیکي فکرونه باید دغې ملي هیلې ته په یوه خوله شي .

### چ . د ډیورنډ کرښې نړیوال قانوني سولییز حل

١ ، د نړۍ تاریخ مونږ ته رازده کړې چې هیڅ یو نړیوال امپایر ښکیلاکګر ځواک له سلو کلونو نه ډېر په پښو ندی ودرېدلی . انګریزان پوهیدل چې دوی د تل لپاره په نړۍ کې زبر ځواک نشي پاتې کیدلی .
دبېلګې په توګه د هانګ کانګ تړون ۹۹ کلونو لپاره لاسلیک شوی وو .هانګ کانګ د ټاکلي مودې سره سم د چین جمهوریت سره یو ځای شو . چینایانو شل کال مخکې د هانګ کانګ د یو ځای کیدلو پلان جوړ کړی وو .ختیځ اولویدیځ جرمنیانو هم د یووالي پلانونه له یووالي نه مخکې جوړ کړي وو .
٢ ، د ډیورنډ د کرښې تړون معیار د سلو کلونو لپاره ټاکل شوی و .په ١٩٩٣ کال د افغانستان حکومت د یو منظم جوړ شوي پلان په ترڅ کې د غه سیمې چې د اوسني پاکستان دوه څلویښت فیصده خاوره ده ، باید له افغانستان سره یو ځای


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

شوي واى .
مونږ خبر نه وو چي غليم شل کاله مخکي د افغان ولس د بربادۍ او کورنۍ جګړې پلان جوړ کړى وو .
۳ . دا لومړى ځل دى چي د پيښور ګورنر د پاکستان لوړ پوړي دولتي چارواکي لخوا د ډيورنډ کرښي په حواله دا اعتراف شوى دى چي دا يوه متنازعه موعقتي کرښه ده . او د ډيورنډ کرښي په هکله يې له افغانستان سره د خبرو اترو غوښتنه وکړه . د برطانوي هند او افغانستان تر منځ د ډيورنډ تړون سلو کلونو لپاره لاسليک شوى چي دغه نيټه دولس کاله مخکي پوره شوې .
۳ ، د نړيوال قانون په بنسټ که چيري د تړون يو خوا منصرفه او يا له منځه ولاړه شي ، تړون په خپله له منځه ځي او يا په خپل لومړني حال کي نه پاتي کيږي . دغه تړون له انګريزانو سره په هند کي نه په لندن کي لاسليک شوى.
انګريزان په سيمه او نړۍ کي په خپل زبرځواکى کي له منځه تللي دي . د تړون د لاسليک په مهال پاکستان وجود نه درلودو . پاکستان هيڅ وخت په قانوني توګه د تړون يوه غاړه نشي بلل کيدلى .
۵ ، د ډيورنډ تړون په هماغه ورځ کله چي لاسليک شو مات کړل شو ، ځکه د افغان ولس ځخه چا د ويشلو پوښتنه نده کړې .
٦ ، افغانانو د تړون د اعتبار په مهال دغه تحميلي کرښه په خپل وجود نه ده منلي . دوى ته دغه کرښه هيڅ قانوني حيثيت نه لري . د پښتنو په سياسي وده او ملي دولت جوړولو کي ډېر غټ ګوزار و .
۷ ، دغه کرښه د Demakationline يا د ډيورنډ لاين په نوم په تړون کي ياده شوې ده . دمه کته شين لاين يو فرانسوى تورى دى .
تعريف : له يوې سيمي نه په موعقتي ډول کرښه ويستل دي ، ځکه د پولي يا رسمي سرحد نوم په تړون کي نشته .
اوسني افغان سياسي چارواکي ، کورني او بهرني ډليزه رسنۍ بايد د پولي نوم په ځاى د پښتون ـ پښتون تر منځه ډيورنډ کرښي نوم واخلي .
۸ ، ولسواکي زمونږ راتلونکي جوړوي ، که نن د دغو اټکل د ټولو ځلوېښت ميليونو ډېر افغانانو ځخه په يوه ټول پوښتنه کي پوښتنه وشي ، که څه هم له افغانستان ځخه په پښتونخوا کي نن ډېر پښتانه استوګن دي . هر افغان ته د خپل هيواد او ولس لوړې ژورې پته شته ، د يو پنځوس فيصدو څخه ډېر پښتانه نن د يو قبيلوي هويت په ځاى يو ملي خپلواک افغان دولت جوړولو هيله او تمه لري .
افغان ولس او حکومتونو ته کله هم د خپل پرله پسي ناورنيونو يرغلونو له کبله دغه فرصت په لاس نه دى ورغلى چي له پاکستان سره دا مسله په قانوني توګه راپورته کړي .
ډير نړيوال او د سيميزو چارو سياسي چارواکي ، سياستپوهان ، د منځني ختيځ انستيتونو خبري رسنۍ او استخباراتي څارونکي دې پايلي ته رسيدلي دي چي په سيمه کي يو شمير بنسټيزه برخليک ټاکونکي پوښتني مطرح دي . د دغو پوښتنو ځوابونه په سيمه کي بنسټيز بدلونونه ، سياسي پوځي پرمختګونه ، نوي پکړې راځرګندوي . يوه له دغو پوښتنو څخه د پښتونستان نړيواله مسئله ده چي د ټولو پښتنو افغانانو راتلونکي سياسي ونده په سيمه کي ټاکي . افغانستان کله چي نيمايي ثبات ، سياسي استقرار ، اقتصاد ، سوله او امن ترلاسه کړي ، د پښتونستان مسئله به په خپله حل ته راپورته کيږي او که افغانستان خپل ټول ثبات ، استقرار ، امنيت او سوله ترلاسه کړي د ډيورنډ کرښي د نه حل په وجه دا ټول نيمګړي وي او د تل لپاره به له ګواښ سره مخامخ يو .
پوښتنه دا نه ده چي پښتانه به يو ځاى ملي غښتلي دولت جوړ کړى شي او که نه ؟
پوښتنه دا ده چي کله او څنګه به دوى دغه ولسواکه ملي دولت جوړ کړي ؟
د يو قبايلي مشر لطيف اپريدي په اند ، هغه مخ دې تور شي ، هغه سر دې غوڅ شي چي د دوو ورونو په يووالي خپه کيږي .
اڅکزى بل مشر وايي ، پښتونخوا زمونږ خاوره ده ، افغانستان زمونږ پلارنۍ هيوا د دى .

## ځ . د ا مريکي متحده ايالات ، ناتو او افغانستان

د پرنګي او د کمونيستي روسيه استعمار له ړنګيدو څه وروسته امريکايانو له انګريزانو سره يو ځاى دغه لويه لوبه اوس پرمخ بيايي ، د دغي لويې لوبي توکي د ولسواکي خپرولو لاندې واک ، ځواک ، تيلو او غازو نل ليکي دي .
امريکايان غواړي په هره بيه چي وي ، د دغي لوبي کوچ او ګټي خپلي کړي او کورته يې يوسي .
د دغي لوبي د ګټلو لپاره امريکايان چمتو دي لکه انګريزي ، روسيي کولونيال استعماري ځواکونه د دريمي نړۍ هيوادونه والوزي او ولسونه سره وويشي او نوي جګړې په کي پيل کړي .
امريکايان د يولسم سپتمبر د بريدونو وروسته او د ترهګرۍ په ضد جګړه کي سيمي ته په خپل ډيپلوماتيکي تور بکس


افغان جرمن آنلاين شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما در تماس شويد
maqalat@afghan-german.de

کې لوی لوی پلانونه چې له دغې پیښې څخه مخکې جوړ شوې دي راوړي .

امریکایان که په دغه نړیوال تروریزم په ضد جګړه کې بری موندل غواړي په سیمه کې ، اوږدمهاله استراتیژي اړیکو ته لرې ، خپل ملي امنیت ته ګواښ وینې . امریکایان باید پوه شي چې دښمنیې جګړه نده اعلان کړې . دښمن یې کوم دولت ندی . دښمن یې معلوم ندی چې په کومه مورچه کې پروت دی . ددښمن شمیر یې معلوم ندی . امریکایان د هغوی ملګري او ملګري ملتونه باید په دې هم پوه شي چې زمونږ افغانانو مخې ته ډېرې ملي هیلې تر سره کول پراته دي . یوه ملي هیله مو هغه څۀ دي چې مونږ په لویه لوبه کې له لاسه ورکړې . د لویې لوبې په دغه دور کې یې بیرته لاس ته راوړل غواړو . نړۍ او امریکایان باید د ترهګرۍ په ضد جګړې کې لومړۍ د ترهګرۍ لاملونه ریښي . فکتورونه وپیژني او د حل لپاره یواځې له ولسونو سره کار وکړي . د ترهګرۍ د ختمولو لپاره باید چې د هغه جرړې غوڅې کړی شي ، چې هرهګري ترې زیږیږي .

## ح . فلسطین قضیه ، ډیورنډ لاین مسئله ، کشمیر لانجه

په دغو بیلابیلو سیمو د انګریزي استعمار لخوا په وینه ، اختیاري او د ظلم نه ډک په خپل سر او خوښه یو اړخیزې په بیل بیل نومونو کرښې ویستل شوې دي .دغه سیمې د نړۍ تر ټولو کړکیچنې لانجمنې ګواښ لرونکي پوست کلونیال سیمې دي .د دغه هیوادونو ولسونه د کولونیالیزم او امپیریالیزم په ضد اسلامي جهاد یو برحقه غبرګون پیژندلی دی . د دغې سیمو ولسونو ته کړکیچونه د انګریزانو د استعمار لخوا رامنځته شوې دي . امریکایان باید د انګریز نړیوال امپایر تیروتنې کړکیچونه په نړیوالو منل شوو نورمونو کې حل او فصل کړي . تر څو چې د خلکو اعتبار پر امریکایانو راشي . دغو زړو کړکیچونو نوي کړکیچونه رامنځته کړي . باید په سوله ، خبرو اترو ، په اصولي کچه او ګرانټي حل شي . تر څو چې اسلامي ترهګرۍ ته د پای ټکی کیښودل شي . خلک خپلې مایوسي ، سرټیټوالي ، غلامي ، په بدل کې نفرت ، بغاوت ، پاڅون ، په اسلامي جهادي غبرګون کې لټوي .امریکایان  که دغه ګرانه جګړه ګټل غواړي او په نړۍ کې نوي سیاسي ولسواک نظم له افغان هندوکشه تر مراکشه راوستل او قایمول غواړي . باید په دې وپوهیږي چې دغه ولسونه په زور د انګریزي کولونیال امپیریالیزم سره ویشلي دي . دلته خلکو ډېر کړکیچونه ، لوږه لیدلې ده . له ناورینو سره مخامخ شوې او سترې قربانۍ یې ورکړې دي . دلته خلک  ډیر ستړي دي او په ریښتیا سولییز ارامه ژوند او حل غواړي .
فلسطینیانو پس له څلویښتو کلونو قربانیو اوس د غزا په تراړه کې د خپلواکۍ پیل کړی . کشمیر د کشمیریانو دی باید د هند ، پاکستان او چین پوځونه له اسیایي سویس څخه ژر تر ژره ووځي . کشمیر یوه غیر پوځي سیمه اعلان شي . دا لومړی ځل دی چې د زلزله ځپلو د مرستو په وجه د کشمیر د کنټرول یا اوربند کرښې ته د مشرف له مخالفت سره سره د ناتو پوځي الوتکې ورسیدلې . باید د نړۍ پام د کشمیر لانجې څخه ونه ګرځي . ایله اوس بیل شویو کشمیري کورنیو غړیو له یو بل سره وکتل . د کشمیریانو یوه هیله ترسره شوه .
د امریکې پوځي یرغل د افغانستان په طالبانو باندې بې د پاکستان له شنې اشارې څخه ډېر ګران و . پاکستان امریکې ته د دغې سیاسي ، نظامي او استخباراتي مرستو ورکولو په بدل کې نه یواځې د پاکستان خپله سیاسي او پوځي ستراتیژي د افغانستان ، کشمیر او هند په اړه په بنسټ کې دړې وړې کړی شو . بلکې پاکستان یې په خپل جغرافیي بنسټیز موجودیت کې وښوروه او یا ولړزوه . امریکې په سیمه کې یو پخوانی انډول له لاسه ورکړی . له پاکستان څخه د امریکې پوځي اډې افغانستان ته او د پخواني شوروي اتحاد جمهوریتونو نه په وتو دي .
پاکستان خپله راتلونکې د پخواني یوګوسلاویا په څیر ګوري . همدا وجه ده چې ډیورنډ کرښې ته د پاکستان په کورني سیاست کې له افغانستان څخه ډېر جدي ارزښت ورکول کیږي .
په ۱۹۷۱ کال کې کله چې له ختیځ پاکستان څخه بنګلدیش جوړ شو ، د پاکستان وجود او پایښت ، بهرني او کورني سیاست د پنځوسو کلونو راهیسې په څلورو متو ولاړ دی . د کشمیر مسئله ، له افغانستان سره د پښتونستان مسئله ، د اتومي وسلو پروګرام ، د مذهبي بنسټپالو رول ، د پاکستان په کورني امنیت او سیاست کې ، د دغې هرې متې له منځه تلل ، د پاکستان وجود بدلولی شي .
د پاکستان څلور ایالتونه په خپل تاریخ کې یو بل سره نږدې شوي ندي ، بلکې له یو بل څخه په واټن کې روان دي . درې صوبې په پنجاب باندې بې باوره شوې دي .
دوی پاکستان ته پنجاب او پنجاب ته پاکستان وایي .
د پاکستان سیاستوال او سیاسي ګوندونه په هر سیاسي کړکیچ کې د پاکستان ماتیدل ویني . د کالاباغ بند په ټول ملک کې تود بحث راپور ته کړی چې کالاباغ بند به پاکستان ماتوي . دوی وایي ، مشرف به یا پاکستان غواړي یا کالاباغ ډیم .


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما  در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

د بلوچانو مشر اختر منګل ووېل ، پنجاب او پنجاب پوځ د پښتنو او بلوچانو پارول غواړي او دغه بند يواځې د پنجاب لپاره دی .

فضل الرحمن ووېل . په قبايلي علاقو کې د پوځ کاروايي مقصد قبايل عوام د پاکستان نه جدا کول دي .

امريکايان په پاکستان کې د ISI تر مشرۍ لاندې د اسلامي بنسټپالو ترهګرو القاعدې روزنه او فابريکې ويني . القاعده د ازادو قبايلو په پټاره کې بې له کوم ډار او ممانعت څخه د ISI په لاربسودنه تګ او راتګ کوي . د قبايلو له ميلمه پالنې او ژور اسلامي احساس څخه ناوړه ګټه اخلي . امريکايان او انګريزان پوهيږي چې پاکستان په پنځوسو کالو کې ونشوای کړی چې ازادي قبايلي سيمې تر خپل کنټرول لاندې راولي . دغه سيمې د قانون تشه لري . يواځې يو د پښتون افغان ملي حکومت په اداري چوکاټ کې دغه سيمې د ترهګرو او بنسټپالو څخه خلاصيدی شي . دغه سيمه تر اوسه د پاکستان په اساسي قانون کې خاص اداري ځای لري . په افغانستان کې د دوی لپاره په اداري سيستم کې يو وزارت بېل کړی شوی دی . دغې سيمې ته ايله اوس پاکستان د نړيوالې ترهګرۍ په ضد جګړې په پلمه خپل اتيا زره کسيزه پوځ ليږلی دی . دغه پوځ په سيمه هيڅ کنټرول نه لري په شمالي وزيرستان، سوات او بلوچستان کې د پوځ په ضد د جګړو او نا امنۍ زياتوالی ليدل کيږي .

په امريکا کې د پرويز مشرف وړانديز د ډيورنډ په کرښه او يا په ګډه پوله باندې د اغزي لرونکي تار لګولو هڅه له يو خوا د دۀ سياسي سادګي ، بې تجربګي او د افغانستان په دې نويو سياسي حالاتو کې او دغه راز په دغه لوی نړيوال کړکيچ کې د هغه وارخطا يي څرګندوي . له بلې خوا مشرف د اسرايلو جمهور رييس شارون څخه په پټو ناستو کې زده کړې چې د افغان ولس په زړه اغزن تار راتاو کړي لکه اسرايلو چې په فلسطين کې دغه کار کړی . دغه اغزن خوب به تر هغه تر سره نشي تر څو چې يو پښتون ژوندی وي . دغه ډول څرګندونې په دغسې حساسو سياسي شيبو کې د افغان پښتون ولس احساسات راپاروي . ځکه د کرښې دواړو خواو ته له پيړيو راهيسې پښتانه اوسيږي . له يو بل سره ژورې کلتوري او ژبنۍ نه شليدونکې اړيکې لري . د ډيورنډ کرښې په دواړو غاړو ګډې کورنۍ اوسيږي . يو قام ژوند کوي او دا ديوال د ترهګرۍ د له منځه تللو سبب نه کيږي چې د يوه ولس او يوې کورنۍ د غړو تر منځ د تګ او راتګ او اړيکو مخه ونيسي .

د افغانستان او پاکستان پولې معلومې ندي . افغانانو په دې اړه تل احتجاجونه کړي . بل هيڅ ځوک يعنې پښتون ضد قوتونه نشي کولی په دغه مسئله خبرې وکړي ، ځکه دا کرښه يواځې او يواځې د پښتنو تر منځه ويستل شوې ده .

پاکستان غواړي د پښتونخوا او قبايلو مشرانو نه هيريدونکي نه ماتيدونکي هيلې يعنې د ډيورنډ کرښې په ټولول ، د خپل پلارني هيواد او خپلې مورنۍ خاورې سره يو ځای کيدل د يو ځواکمن پښتون افغان ملي دولت جوړول ، مخه ونيسي .

همدا وجه ده چې د پښتنو د هيواد پالنې ، د يووالي پاک احساسات ، ملي او خپلواکي خوښونکي غورځنګونه په اسلامي بې نامه او بې نښانه احساساتي کانالونو کې راتيټ ، ويشل او نستل کيږي . د کرښې په دواړو خواو کې د پښتنو د يووالي ناسيوناليزم ويښتيا وځپي .

پاکستان تل په افغانستان کې په سياسي ، اقتصادي کچه يو کمزور او په کورنيو چارو کې بوخت د دوی پلوی حکومت غوښتی دی . چې له يوې خوا د خپل زورور مشر ورور هند ته ارامه وي . له بلې خوا له افغانستان څخه پرته پاکستان په سيمه کې ډېر يواځی دی . پاکستان هڅه کوي چې په يو لاس دوی موخې او دغه کړکيچونه کنټرول کړي . په يو لاس د ډيورنډ کرښې لانجه او د پښتنو بنسټپالو اغيز ، په بل لاس کې د کشمير لانجه او اتومي وسلو کړکيچ له هند سره ، اوس پاکستان ته ډېره ګرانه ده چې بيلانس وساتي . پاکستان نږدې خپل ټول عمر په نظامي حکومتونو کې تېر کړی دی . افغانستان ، پښتونخوا او سيمې ته امريکايان نه يواځې له پرمخ تللې وسلو سره راغلي بلکې پراخه اقتصادي، سياسي پانګه اچونې اوږد مهاله استراتيژيکي پلانونو سره راغلي دي .

له پاکستان سره د امريکې ملګرتوب د روسانو په ضد و . پاکستان له خونړی پيدايښته په نړۍ کې د جبهو او کړکيچو دولت پيژندل شوی دی . د هند سره په پوله د کشمير لانجه له افغانستان سره د ډيورنډ لاين مسئله چې تر اوسه پاکستان ونشوای کړی حل يې کړي . امريکايان د کشمير په لانجه کې د هند او پاکستان لخوا د اتومي وسلو د استعمال ګواښ هم ويني . سيمې ته اتومي جګړې ستر ګواښ دی . همدا اوس د پاکستان په اتومي وسلو د امريکې کنټرول شته .

همداسې له سعودي عربستان څخه امريکا يانو نږدې خپلې ټولې اډې عراق ته ويستلې . د بن لادن جهاد د امريکې په ضد د يولسم سپتمبر نږدې ټول هوايي يرغل کوونکي له عربستان څخه وو. طالبان نن هم د سپتمبر په پيښو کې د لاس نه لرلو ادعا کوي . د لندن بمي چاودنو پړه انګلستان په پاکستان کې پر ځينو کړيو واچوله .

خ ، د امريکې متحده ايالات ، ناټو ، افغانستان

امريکايان انګريزان دا ځل د افغان باتوره ولس افغان پوهنې تاريخ ته لږ. کتلې راغلي معلوميږي . ناټو ځواکونه اوس په


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

ټول افغانستان کې خوار او پوځي عمليات پيلوي . د ورسا تړون په له منځه تلو کې افغان ولس لوی رول ولوبولو . د ناټو موجوديت يې له ګواښ سره مخامخ کړو ، ځکه د شمالي اتلانتيک تړون د وارا تړون په دفاع کې جوړ شوی و .
ناټو تړون خپلو پوځونو ته اجازه نه ورکوله چې له خپلو پولو څخه بهر پوځي عمليات وکړي . افغانانو د ناټو تړون په بنسټ کې بدلونونه راوستل . امريکايان ، انګريزان ، روسان پوهيږي چې يونيفورم لرونکی پوځ په افغانستان کې نه پاتې کيږي ، ماتيږي ځکه د دوشپيتو هيوادو جنډي په افغانستان کې ولاړې دي .
شمالي اتلانتيک يا ناټو غړو هيواونو هغه پلانونه منلي چې د افغانستان سوئيل ختيځو سيمو ته خپل ځواکونه غځوي . د افغانانو سره د ناټو پوځونه چلند د ائتلافي ځواکونو چلند سره بايد توپير ولري .ترڅو چې د ولس روحيه د غو پوځونو په مقابل کې په مسبته بدله شي . امريکايان افغانان په دې پوهول غواړي چې افغانان له نړۍ سره نشي جنګيدلی . ريښتيا هم افغانان نه غواړي او نه شي کولی دا مهال له نړۍ سره وجنګيږي .
د ديرشو کالو جګړو څخه وروسته زمونږ خبره په سيمه کې د سولې او امن ده . که امريکايان او د دوی ملګري همداسې يواځې د خپلو موخو او پلانونو عملي کول غواړي ، د افغان ولس راتلونکي حکومت او پر ستونځو باندې سترګې پټوي . خپل پوځي ، اقتصادي عمليات تر سره کوي او خپلې ګټې خوندي کول غواړي . افغان ولس ته د شک په سترګه ګوري نو امريکايان او ناټو پوځونه د افغانانو په خاوره کې ناکامه او په سيمه کې نشي پاتې کېدلی .ځکه پښتانه په افغانستان او سيمه کې د واک ، ځواک ، اوسولې ته لوی فکتور دي . همدا اوس د يوې وړې ماتې شوې ډلې په وجه د افغانستان څخه د ويتنام بوی راځي . ناټو په خپل تاريخ کې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د خپل پايښت نړيواله پوځي ازموينه ورکوي . زمونږ د ملي هيلو برې به د ناټو برې په نړۍ کې وي .
د امريکې او ناټو هيواونو ملي ګټې تر هغه نشي تر سره کيدای تر څو چې د افغانستان ملي ګټې ورسره په پام کې ونه نيولی شي .
کله د ګونتانامو نه د بشر حقوقو تيري ناوړه خبرونه راځي ، د ټول منل شوي نړيوال قوانينو تر پښو لاندې کول ، بيا په افغانستان کې په ودونو بې رحمه هوايي بريدونه کيږي ، هره ورځ د بي ګناه ، بی دفاع ولسي وګړو وژني خبرونه نوره دزغم وړ ندي . د خلکو کورونو ته په نيمه شپه د القايدې په لټه کې ورننوتل .
بيا کله د طالبانو مړي د نړيوالو منلو شويو قوانينو خلاف سوځول کيږي . په کابل او بګرام کې پټ شخصي زندانونه خلاصول او لا درکه زندانيانو ساتل . د افغانستان سوېلي ختيځې سيمې د پوځ په ژبه د No go Area د پوځي عملياتو سيمې اعلانول . د بيا رغونې پروګرام څخه محرومه له نړۍ څخه په انزوا کې ساتل او د ازاد خبريالانو ورتګ منع معنا ورکوي . د پوځي عملياتو په ترڅ کې د سيمې له ناروغانو سره د درملنې په بدل کې پوځي استخباراتي معلوماتو لاس ته راوړل . په سوېل کې د بيارغونې چارې د پوځي عملياتو په وجه په ټپه ودرېدل ، دا ټول په ولس کې امريکايي ضد احساسات راپاروي .
له بلې خوا خلک د القاعدې له پاتيشونو څخه ، بې ګناه ولسي وژني، د ديني علماو ، ښوونکو وژلو او ښونځيو سوځولو او له خپل ورور وژنې ، يرغملولو او زوږولو څخه هم پزې ته راغلي دي .

### د . د نوي غښتلي ، خپلواک، ولسواک افغانستان راتلونکې

لنډه دا چې خلک نور صبر له لاسه ورکي . ورکړ شوي وعدې ندي ترسره شوي . افغانستان په خپل تاريخ کې د دومره لوی نړيوال مالي او اقتصادي ملاتړ څخه برخمن نه ولکه نن .
د ډيورنډ کرښې هيڅ وخت دومره د نړيوال سياست پام خپل ځان ته ندی راړولی ، لکه نن
د دې کرښې د رسمي له منځه تللو ته هيڅ وخت دومره توکي نه وو راټول شوي لکه نن
مونږ لر او بر افغانان يووالي او پيوستون ته ، ملي دولت جوړولو ته هيڅ وخت دومره نږدې او اړ نه وو لکه نن .
نړيواله ټولنه او د ناټو هيوادونه غواړي افغانستان د نړۍ ولسونو ته د ولسواکۍ او سولييز ژوند يوه ښېلګه وروپيژني . د دوی ناکامي په افغانستان کې زمونږ تاريخي ناکامي ده .
د افغانستان اوسنی سياست د ډيورنډ کرښې په اړه د يو پوه ، عالم ، منځلاري ، هيوادپال ، په نړيوال سياست کې وارد ، په هوډ کې کلک لکه شهيد محمد داود خان غوندې افغان ولسمشر او مشرانو ته اړتيا لري .
دغاه طلايي جانس چې نن نړيوالې ټولنې افغانستان ته په بيا رغونه کې پس له ديرش کلنې اوږدې جګړې ورکړی دی ، د نړيوالې ټولنې لخوا د افغانانو او د امريکايانو له لاسه وځي . که حقيقتونو ته ، ملي هيلو ته پام ونشي ، سيمه په اور کې ډوبيږي . افغان دښمنه ځواکونه د افغانستان د نورو تباهۍ پلانونه جوړوي .
دا مهال دلته په افغانستان کې نوي سالم ولسيز لوی فکر کولول ته ، چټک پر مختګ او ملي سياست ته د څو ګوتو په شمار ملي ولسواک ګوندونو ته ډېر اړتيا شته . بدلون ، اوږدې مودې ته ، سړی سينې ته ، کلک هوډ ته ، پاک ملي


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de

سیاستپوهانو ته اړتیا لري .د پښتونستان مسئلي حل لپاره د ټولو پښتنو او د افغان په خاوره کي د ملي یووالي احساس لرونکي اوسیدونکو وګړو ته د یوې ملي جرګي رابللو لاره باید خلاصه شي .

اتفاق په پښتانه کې پيدا نشو　　ما به د مغل ګريوان پاره کړ

د خيبر دره خو لار د تلو راتلو ده　　په کابل او پيښور کې افغان يو دی

پيښور دی او که کوټه زما کور دی
که کابل که کندهار دی زما ورور دی
هر خاين جي دې کې خنډ اچول غواړي
که د لر دی که بر دی مخ يې تور دی


افغان جرمن آنلاین شما را با مسرت به نوشتن دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما در تماس شوید
maqalat@afghan-german.de